پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۰۹/۱۲/۲۹م

# نوی کابینه: تخصص، تعهد، مصلحت او پایلی

ښاغلی کرزی د اولسمشری د دویمی دوری دپاره د نوماند کیدلو سره سم دسترو چلنجونو اوبيلابيلو ستونزو سره لاس او گريوان شو. دغو ستونزو دوه زوررور لاملونه درلودل. داخلی لاملونو یی خارجی لاملونه راوزيږول چی دغه خارجی لاملونه بیا په ملی او نړیواله کچه ډيرابلمونو او جنجالونو مور وگرځيده. را توکيدلو ستونزو ددغه لامل پر بنسټ په دوو اړخونو کی وده وکړه. په افقی اړخ کی یی هرلورته پراختیا وموندہ او د ټولنی پرهره برخه یی يرغل یووړ او هغه یی اغیزمنه کړه. په عمودی اړخ کی ستونزی دومره ژوری ولاړی چی دریښو را ایستل یی د کرزی دتوان نه بهر شوه.

په هیواد کی د طالبانو تر را پرځولو وروسته په بن کی د جوړی شوی کابینی دپاره چی کرزئ یی اولسمشر په پام کی نیولی وو، داسی شرایط ټاکل شوی وه چی له مخی یی جمهور رئیس د وزيرانو د ادلون بدلون صلاحیت ندرلود. که څه هم کرزئ د مرکزی دولت د رئیس پنامه ناست وو، مگرمتمرکز مرکزی دولت اصلا وجود ندرلود. د ۹۰ – یمو کلنو تنظیمی انارشیزم داخل د امریکا په زوررور متانو د واک پر گدئ کښينول شوی وو ځکه یی نو د هیچا پروا ندرلوده او د ملک الطوایفی اداره یی دا پلا د ب- ۵۲ او ف- ۱۶ په ملاتړ منځته راوستل. ارگ ته د کرزی تر ننوتلو وړاندی لا جهادی قوماندانان په ټولو ولایتونو کی خودمختاره واکداران گرځيدلي وه. هلته هم د بیلابیلو قوماندانانو د واک ساحی سره ويشل شوی وی چی ډير وختونه به د دولتی شتمنيو او ځمکود ويش پر سر ددوی تر منځ خونړی جنگونه منځته راتلل او کرزی به یوازی دمنځگړی یا ثالث باالخير رول لوبولای شو. واليانو او قوماندانانو د مرکزی حکومت د اولسمشر سره يوازی فورماليتی اړيکی درلودی او دده داحکامو په منلو یا نه منلو کی یی دخپلی خوښی او اختیار نه کار اخيست. امريکايانو او لوديزوالو هم دغه کسان په غير کی نیولی وه او پر سر به یی لاس ورتيراوه چی دغه کار دوی نور هم د اولسمشر به وړاندی بی پروا کول.

داخو په بن کی د ټاکل شوی اولسمشر داخلی سونزی وی. دده تش پنامه خارجی ملاتړو لکه ایساف او امریکا پدی هیواد کی دومره خپلسری پیل کړی وه چی دافغانی ټولنی دودونو او اخلاقی نورمونو ته یی هيڅ پاملرنه نه کول و هر څه یی د لودیزی دموکراسی په تله کی تلل خو پدی کار کی یی هم دبشر حقونه چی لوديزوال ډير پری نازيږی ، له یاده ایستلی وه. دوی په نیمه بیله اجازی د خلگو په کورونو ننوتل، نر او ښځی یی تلاشی کولی او د القاعدی پنامه به یی سپکاوئ ورته کاوه، روزل شوی وحشی سپی به یی ور ایله کول، پخپلو عملیاتو کی به یی پر بیگناه وگړو د بمونو باران جوړاوه. په ځانگړی توگه جنوبی او ختيځ ولایتونه د کربلا ډوله جنوساید میدان گر ځيدلی وو. د اولسمشر کرزی نیوکو، خواهشونو او اعتراضونو ته یی هيڅ اهمیت نه ورکاوه. دجهادی وسلوالو قوماندانانو په بی وسلی کولو کی یی چی دبن په کنفرانس کی پری ټينگار شوی وو، نه یوازی جدی عملی گام وانه خيستل شو بلکه پدی خاطر چی گویا هغوی د طالبانو په ټکولو کی مرسته ورسره کړی وه، نو دوی یی لا و نازول، نقدی او جنسی انعامونه یی ورکول او د کرزی به وړاندی یی لا نورهم زړه ور کړل.

لدی نه پرته د دولت څلورمه قوه یعنی ډله ايزی رسنی هم تر لويه بريده د زورواکانو تر اغیز لاندی روانی وی او زياترو یی د ژبنی او سمتی توپيرونو بر بنسټ د هیواد په دننه او دباندی کی دکرزی پر ضد پراخ کمپاین پيل کړی وو، حق او ناحق یی د ټولو خړ پړتیاوو پړه دده پر اوږو ورباروله او دی یی دخلگو په ذهنیتونو دومره وټکاوه چی چا دده دمثبتو کړنو نوم هم يادولای نشو.

کله چی دلومړی دوری په ټولټاکنو کی کرزئ پدی وتوانیدی چی دخلگو ملاتړ ترلاسه او میدان و گټی نو یی د خارجی قوتونو دخپلسرو بمباريو په وړاندی ټينگ غبرگون وښود او تهدید یی وکړ چی که دا کار نور هم دوام وکړی، دی به یوه ځانگړی لویه جرگه را وغواړی څو دخارجی قوتونو دشتون په اړوند تصمیم ونیسی. پدی وخت کی کرزی همدارنگه د تنظیمی سرکښو واليانو او قوماندانانو د ادلون بدلون په کار کی يو لړ گامونه پورته کړه چی هغوی یی لانور هم په مقابل کی را وپاريدل او دده دنوم بدی په موخه یی له هيڅ روا او ناروا کار نه ډډه نه کول.

اداری فساد چی د لوړو ناوړو شرايطو په گيډه کی وده کړی وه، دا مهال دنوموړو تنظیمی زورواکانو په قصدی کړنو دومره و پرسيدی چی هیوادوال یی پرنفس راوستې راوستل. امریکا او لویدیز چی د کرزی دنيوکو او تهدید نه ناراضه شوی وه، ددغه ستونزمن حالت نه یی ددغه بر ضد کاروا خيست او دخپلو رسنيو د لاری یی ددغه وتخريبولو ته ملاوتړل. د کرزی دکورنی دځينو غړو پړه یی دده پر اوږو بارکړه او د هغو زورواکانو په وړاندی چی ډاډمن یی ساتلي وه، دده د حکومت کمزوری ورته پيغور کوله او بیکفایته یی ښووده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

کله چی د دویمی دوری د ټولټاکنو وخت را ورسیدی، د کرزی دبریالیتوب پوټنشیال چی تر لویه بریده په جنوبی او ختیځو ولایتونو کی وو، په دوه دلیله کمزوری ښکاریده : لومړی داچی دا سیمی دجنګ میدان وو او خلګو د طالبانو د ګواښ له ډاره په ټولټاکنو ګډون کولای نشو. دویم داچی پدی سیمو کی خلګو د خارجی قوتونو دخپلسرو عملیاتو او ټول وژنو پره د بی شمیره رسنیو د تبلیغاتو تر اغیزی لاندی پر کرزی ور اچول چی د دوی له چاری نه یی ساتلای نشی. پدی توګه ان په هغو سیمو کی چی دطالبانو د تهدید ډار هم دومره زیات نه وو، خلګ د کرزی له ملاتړ نه لاس به سر شوی وه.

ددغو ټولو ناوړتیاوو پایله داشوه چی کرزی اړوت څو د داسی کسانو سره اتحا د وکړی لکه فهیم، دوستم، محقق، اسماغیل خان او نور. کرزی پدی کارسره د واک ترلاسه کولو برسیره دوی نوری موخی هم په پام کی نیولي وی : لومړی ده غوښته دهیواد دمشر په توګه د ملی یووالي په لاره کی یو ګام مخته ولاړ شی. دویم ده غوښته امریکا او لویدیز ته و ښیي چی بیله د دوی له ملاتړ نه هم دی کولای شی دخپلو خلګو په ملاتړ سره اولسمشر شی.

پدغه اتحاد کی دجوړ جاری له مخی کرزی اړ وو چی د نوموړو کسانو یو لړ غوښتنی هم باید ومنی ځکه چی دا یوه دوه اړخیزه معامله وه او هر اړخ باید ټاکلي مکلفیتونه پرغاړه اخیستي وای. د دوی په غوښتنو کی یوه لویه برخه دا وه چی په کابینه کی باید د دوی دخوښی یوشمیر کسانو ته ځای ورکړل شی. ددغو غوښتنو دمنلو سره سم کرزی د کابینی په جوړولو کی دداسی ( مصلحت ) د عنصر سره مخامخ شو چی دیوه افغان په توګه یی په هیڅ لور تری نه مخ اړولای نشو ځکه د قول او وعدی نه مخ اړول پخپله دانسان د شخصیت معنوی اړخ کمزوری کوی. له بلی خوا دهیواد اساسی قانون له ده نه دا غوښتنه کوی چی وزیران یی باید لوړی زده کړی ولری. دی قانونی شرط بیا کرزی د ( تخصص ) دعنصر مخته ودراوه چی همدارنګه ورنه تیریدلای نشو. هیوادوالو او نړیوالو له کرزی نه په ټینګه دا غوښتل چی وزیران یی باید په صداقت او وفاداری سره کار وکړی، لاسونه یی په وینو ککړ نه وی او د اداری فسا د برضد وجنګیږی. دغو غوښتنو دی د ( تعهد ) د عنصر سره مخامخ کړ. پردی ټولو برسیره د اولسی جرګی پریکړه چی وزیران باید دوه ګونی تابعیت ونلری هم د کرزی دپاره یو بل چلنج شو. اولسی جرګی ته دا ډول صلاحیت اساسی قانون ورکړی او کرزی یی د په پام کی نیولو مکلفیت لری.

نوموړو درو ټکیو کرزی د نوی کابینی په غوره کولو کی دسختو ستونزو سره لاس او ګریوان کړ. دی تر څو اړخیز فشار لاندی حیران پاته شو چی څه وکړی. له هیڅ یوه شرط نه هم تیریدلای نشو او دا دری واړه عنصره به یوه تن کی سره یو ځای کول هم اسانه کار نه وو. له یوی ورځی نه بلی ته د اوږده ځنډ وروسته یی اخر یو شمیر کسان غوره او پارلمان ته یی د باور رایی اخیستلو پخاطر ور وبیژندل. د نوی کابینی نژدی نیمه برخه د پخوانی کابینی هغه غړی دی چی پخپلو کارونو کی نسبتا بریالي پادیدل. د نوو کسانو له پیژند لیک نه هم داسی معلومیږی چی لوړی زده کړی او یوه لړه اندازه د کار تجربه لری. پر دوی باندی تر اوسه پوری په کور دننه کی منفی نیوکی ندی شوی. نړیوالو یی هم په اره د احتیاط نه ډک غبرګون ښودلي او کابینه یی به ټولیز ډول دباور وړ بللي ده. که د یوه نوی ښه کال په هکله له پسرلي نه اټکل وکړو خو یو څه هیلی سته چی ګوندی فصلونه به ښه راشی او که چیری بیا دکور په دننه کی خوسا شوی حالت، د ورانکاریو په چارو کی دپنځم ستون ازاد لاس او د نړیوالو دوه مخیز سیاست په پام کی ونیسو نو لدی وریو نه به دښری جوړولو امید سخت وی. داځکه تجربی وښوده چی امریکا او لودیز د کرزی د بدنامولو پخاطر هم دنړیوالو په سترګو کی خاوری پاشی او هم دافغانانو سره د هر ډول جفا مخ نه اړوی.

زما په اند اوسني ستونزی باید له هغه ځایه نه غوځی شی چی ریښی یی تری نه اخیستی دی. داریښی دبن له کنفرانس نه راغځیدلی چی طالبان هلته دیوه ستر اغیزمن اوبیاوړی اړخ په توګه بیخی نفی او هیڅ په پام کی ونه نیول شول . ترڅو پوری چی دغی ستونزي ته دحل یوه عادلانه او مناسبه لاره پیدا شوی نه وی نو په ډاګه ویلای شم چی دا آش او دا کاسه به وی او دا وړی به هیڅکله هم شړی نشی .

پای

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

**یادونه:** دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ